**مطبوعاتي اعلاميه**

## د "اصلاحاتو" تر نامه لاندې له اسلامي عناصرو څخه د امنيتي ځواکونو پاکول

د افغانستان ولسمشر د اردو د ۱٦۴ جنرالانو د تقاعد فرمان لاسليک کړ. دا فرمان په امنيتي سکتور کې د "اصلاحاتو" د پروسې يوه برخه ګڼل شوې، چې په ترڅ کې به يې د امنيتي ځواکونو له صفونو څخه ۲۰۰۰ جنرالان او لوړپوړي افسران ګوښه کېږي.

موږ په امنيتي سکتور کې د "اصلاحاتو" پروسه، چې ظاهراً د ځوان او مسلکي کولو تر نامه لاندې پر مخ وړل کېږي يو بشپړ امريکايي بهير بولو، تر څو د امت د قدرت واقعي مرکزونه، چې په اردو کې راټول شوي، د مصر، ترکيې او پاکستان د پوځونو په څېر د امت او د هغه د ويښوونکو حزبونو له لاسرسي څخه بهر کړي او د دې تر څنګ لاندې څو نورې جزئي موخې هم تعقيبوي:

- له امنيتي سکتور څخه د اسلامي عناصرو او پخوانيو مجاهدينو ګوښه کول؛
- د هغو قومي، قبيلوي او سياسي رهبرانو او متنفذينو قدرت کمول، چې اسلامي احساسات او افکار لري او د دغه قدرت انتقال يوې سيکولر، غربي او د امريکايانو فرمان منونکې اردو ته؛
- د افغان امنيتي ځواکونو له صفونو څخه د امريکا د سيمه‌ييزو رقيبانو د نفوذ له منځه وړل؛

ترڅو په امنيتي سکتور کې د دغو "اصلاحاتو" په پايله کې امريکا وکولای شي، چې يو تابع نظامي ځواک رامنځته کړي او په سيمه کې د راتلونکي اسلامي دولت (راشده خلافت) د رامنځ ته کېدو د مخنيوي او د خپلو سيمه‌ييزو او ستراتيژيکو موخو د لاسته راوړلو لپاره ګټه ترې واخلي.

د افغانستان مسلمان ولس، متنفذين او پخواني مجاهدين بايد پوه شي، چې د افغانستان په امنيتي سکتور کې "اصلاحات" د امنيت د ټينګښت لپاره هېڅ ګټه نه لري، بلکې امريکايي موخو ته د رسېدو لپاره د افغان ځوانانو له انرژۍ او وينې څخه د وسيلې په موخه کار اخيستل کيږي، چې له امله يې امريکايي ځواکونه له جنګي ډګرونو څخه په شا کېږي، تر څو روانه جګړه د مسلمانانو د ځواکونو په وسيله خپله د مسلمانانو پر وړاندې پر مخ بوځي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**